# د افغانستان د بشري معلوماتو میاشتنۍ خپرونه

۶۷مه ګڼه / د ۲۰۱۷ کال د اګسټ له ۱ تر ۳۱ ورځې پورې

OCHA

## په دغه ګڼه کې

د زیات شمېر ولسوالیو مرکزونو تر برید لاندې راغلي ***لومړی مخ***

څه باندې دوو میلیون وګړو سره مرسته شوې ***دریم مخ***

د نړۍ د خیریه مرستو ورځ ***څلورم مخ***

له اقتصادي اړخه د ښځو پیاوړتیا ***اووم مخ***




## غټ ټکي:

- په اګسټ میاشت کې د اتو ولسوالیو د مرکزونو د نیولو پر سر جګړو ۵۰۰۰۰ خلک بېځایه کړي دي.
- د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې له څه باندې دوو میلیونه وګړو سره مرستې شوې دي.
- په ټول هېواد کې جنګې او هلکان د لوړې کچې زورزیاتي او هان وحشیانه سزاوو له خطر سره مخ دي.
- د ځوانانو په پرمختیایي مرکزونه کې تدریس کېدونکو مهارتونو د ښځو له استخدام سره مرسته کړې او همداشان یې د دودیز جنډر نقشوو په ماتولو کې ورسره مرسته کړې ده.
- په ۲۰۱۷ کال کې د کلستر سیستم له لارې د مرستې ترلاسه کولو لپاره د په نښه شویو شمېر کسانو کې کمی راغلی یعنې له ۵,۷ میلیونو څخه ۳,۶ میلیونو ته را کم شوي دي.

**د بشرپاله مرستو د پلان لپاره ۴۳ سلنه بودیجه را ټوله شوې ده**

## د ولسوالیو د نیولو لپاره جګړو زور اخیستی

د امنیتي ځواکونو د خبر له مخې، د اګسټ د میاشتې دریمه اوونۍ د جګړو د شدت له اړخه یوه ډېره سخته اوونۍ وه، چې همدا ټوله میاشت په هېواد کې د سختو درنو جګړو شاهده وه. د نادولتي وسله والو ډلو (NSAGs) او افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) تر منځ د ولسوالیو د مرکزونو شاوخوا د هېواد د سیمو د تر ولکې لاندې راوستلو لپاره شدیدې جګړې شوې، چې معمولاً نادولتي وسله والې ډلې د ولسوالیو شاوخوا پر امنیتي پوستو باندې خپل بریدونه پیلوي.

د اګسټ په میاشت کې، نادولتي وسله والو ډلو د هېواد په اوو ولایتونو کې د اتو ولسوالیو د مرکزونو د نیولو پر سر جګړې کړې دي *(جدولی ووینئ)*. د روان کال د جنوري نه د جولای تر میاشتې پورې، نادولتي وسله والو ډلو د هېواد پر نږدې لسو ولسوالیو باندې بریدونه کړي او نیولې یې دي. چې له دې ډلې د کندوز د دشت ارچي ولسوالۍ او د هلمند د سنګین ولسوالۍ بیرته د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د درنو جګړو او هوایي بمباریو له کبله ونیول شوې.



د اګسټ په میاشت کې د جاني خېلو د ولسوالۍ د مرکز د نیولو پر سر جګړه دوام درلود. سرچینه: خواله رسنی

**په اګسټ میاشت کې د ولسوالیو پر مرکزونو باندې د بریدونو له کبله ۵۰۰۰۰ خلک بېځایه شوي دي**

د ولسوالۍ ټول خلک د ولسوالۍ پر مرکز باندې تکیه لري او هغه هم هلته د مهمو بنسټیزو خدمتونو د شتون له کبله لکه روغتیایي خدمات، معارف او سوداګري او کله چې جګړې د ولسوالیو کلیو ته را ورسیږي، نو هلته بېځایه شوي کسان هم ټول د ولسوالۍ مرکز ته کډه کوي.

کله چې د ولسوالۍ مرکز تر برید لاندې راشي، نو هلته وسیدونکي بېځایه شوي هم په نورو خواوو ځي: د رپوټونو له مخې، د اګسټ په میاشت کې څه باندې ۵۰۰۰۰ خلک د لنډ ...هال لپاره د ولسوالیو له مرکزونو څخه بېځایه شول او په ...ځنګلورو کلیو کې یې د خپلو خپلوانو کورونو ته پناه یوړه.

| کورني بېځایه شوي وګړي* | هغه ولسوالۍ چې برید پرې شوی یا جګړه پرې روانه ده | نېټه |
|---|---|---|
| ۲۱۰۰۰ | غورماچ، بادغیس | اګسټ ۱۴مه |
| ۷۷۰۰ | جاني خېل، پکتیا | اګسټ ۱۵مه |
| ۵۳۰۰ | تیوره، غور | اګسټ ۱۶مه |
| ۱۴۰۰۰ | بالامرغاب، بادغیس | اګسټ ۲۱مه |
| معلومات نشته | خمیاب، جوزجان | اګسټ ۲۱مه |
| معلومات نشته | زنه خان، غزني | اګسټ ۲۴مه |
| ۳۵۰۰ | ګومل، پکتیکا | اګسټ ۲۵مه |
| معلومات نشته | بره کی برک، لوګر | اګسټ ۲۶مه |

*د حداکثر لنډمهاله بېځایه کېدو خبر ورکړل شوی
سرچینې: OCHA، رسنۍ او سیمه ایزې سرچینې

د بادغیس ولایت په بالامرغاب او غورماچ ولسوالیو کې د ...یات شمېر خلکو د بې ځایه کېدو یوازینی علت هم دا و چې ...هلته د دواړو ولسوالیو مرکزونه د سیمه ایزو پولیسو (ALP) او ... دولت پلوه وسله والو ګروپونو له خوا ساتل کېږي. نو له ...همدې کبله د هغوی کورنۍ له دې ډاره چې که طالبان ولسوالۍ ...نیسي نو هغوی ته به سزا ورکړي او له ولسوالۍ څخه وتښتیدل.

**د جاني خېلو ولسوالۍ اوسیدونکي له ولسوالۍ تښتیدلي او یوازې مشران یې د خپلو کورونو د ساتنې په موخه هلته اوسي**

د پکتیا ولایت دجاني خېلو د ولسوالي مرکز چې لومړۍ ځل نادولتي وسله والو ډلو د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر په میاشت کې ونیوله تر اوسه پورې درې ځله د نادولتي وسله والو ډلو او افغان امنیتي ځواکونو له خوا لاس په لاس شوې ده. د روان کال د اګسټ په نیمایي کې نادولتي وسله والو ډلو بیا پر دې ولسوالۍ برید وکړ او

دوه اوونۍ وروسته د جګړې دواړو غاړو د یوه بل پر مواضعو باندې له درنو وسلو کار واخیست چې دا جګړه لا اوس هم روانه ده.



د OCHA د دفتر یو تن کارکوونکی له تازه خان سره خبرې کوي کوم چې د اګسټ میاشت په لومړیو کې له جاني خېلو څخه خوست ته تښتیدلی دی.
انځور:OCHA/Philippe Kropf

تازه خان چې کور یې د ولسوالۍ مرکز ته نږدې پروت دی او د اګسټ په سر کې خپل کور پرېښودلو ته اړ شوی داسي وایي: (له جاني خېلو څخه زیات شمېر کورنۍ راوتلي دي). نومورۍ د ۲۸۰۰ کسانو له ډلې څخه یو دی چې د خوست ښار ته بېځایه شوی دی. نومورۍ زیاتوي چې: (دواړو هم عسکرو او هم نادولتي وسله والو موږ ته وویل چې خپل کورونه پرېږدي ځکه چې دوی نه غواړي په جګړو کې ووژل شي.)

د بېځایه شویو کورنیو او په جاني خېلو کې د شته سرچینو د معلوماتو له مخې، زیاتره کورنۍ له ولسوالۍ څخه راوتلي دي او یوازې سپینږیري یې هلته د خپلو کورونو، څارویو او پټیو د ساتنې لپاره پرېښي دي.

زیاتره کورنۍ له ولسوالۍ څخه راوتلي دي او یوازې سپینږیري یې هلته د خپلو کورونو، څارویو او پټیو د ساتنې لپاره پرېښي دي.

تازه خان په جاني خېلو کې د پاته کېدو په خطر باندې پوهیده، ځکه چې په ۲۰۱۶ کال کې د هوايي برید په ترڅ کې یوه تیزه پارچه د هغه د زوی، کرزي په مخ ولګېدله. که څه هم زوی یې ژوندی پاته شو، خو خپله کېڼه سترګه یې له لاسه ورکړه.

**که څه هم خپلو کورونو ته د بیرته تګ لپاره ډېره کمه هیله ده، خو بشري مرستو له کورنیو سره مرسته کړې**

اوس مهال، نومورۍ د خوست په ښار کې د یوه لرې خپلوانو په یوه خالي حویلۍ کې ژوند کوي. خوست ته په رارسیدو سره هغه یو زړه خیمه د کډوالو له یوې بلې کورنۍ څخه واخیسته او تر هغې خیمې لاندې دی او ښځه یې له ۱۱ ماشومانو سره ژوند کوي. نومورۍ وایي: (ما په جاني خېلو کې ښه کور درلود. خو دلته زه تر خیمې لاندې ژوند کوم او د شپې له خوا هلته ګوزاره کول له کچې وځي او ماشومان مې راته ژاړي.)

نومورۍ یو له ۱۰۰ هغو کورنیو څخه دی چې په دې وروستیو کې له جاني خېلو ولسوالۍ څخه خوست ته راغلي او هلته یې د نړیوالې خیریه کمېټې (IRC) او سولیداریتیس انټرنشنل (SI) له خوا د نغدو پیسو مرسته او د کورنۍ بېړنیو توکو مرسته تر لاسه کړې ده. که څه هم دا مرستې به د نومورۍ کورنۍ ارتیاوې د یوې میاشتې لپاره رفع کړي، خو ښاغلی خان ډېره کمه هیله لري چې بیرته دې خپل کور ته ستون شي او هلته دې خپل ژوند له سره جوړ کړي. نومورۍ وایي: «موږ هر څه هلته پرېښودل. یوازینۍ شی چې موږ یې لرو هغه زموږ د ماشومانو ژوندي ساتل دي. که چیرته موږ هلته پاته شوي وای، کېدای شوای چې وژل شوي وو، له همدې کبله موږ دلته راغلو.»

«موږ هر څه هلته پرېښودل. یوازینۍ شی چې موږ یې لرو هغه زموږ د ماشومانو ژوندي ساتل دي. که چیرته موږ هلته پاته شوي وای، کېدای شوای چې وژل شوي وو، له همدې کبله موږ دلته راغلو.»

**وسله والي ښکېلې غاړې جګړه لا پسې درنوي**

په افغانستان کې زیاتیدونکې ناامنۍ نه یوازې پر ولسوالیو پر مرکزونو باندې د زیاتیدونکو بریدونو له کبله ده، بلکې د داعش د خراسان ولایت (ISK) ته د منسوبو وسله والو ډلو له خوا د بریدونو په دوه برابره کېدو سره یوازې د روان کال په لومړی نیمایي کې د همدې ډلې د بریدونو شمېر ۲۳۰ ته لوړ شوی دی. د ۲۰۱۶ کال د لومړی نیمایي په اوږدو کې د داعش ډلې فعالیتونه له ننګرهار پرته اوو نورو ولایتونو ته غځیدلي دي. په داسي حال کې چې خیني ځېرونکي داعش له طالبانو سره په همغږۍ تورنوي – لکه د اګسټ په لومړیو کې د سرپل ولایت د میرزا اولنګ په کلي باندې د شوي برید په څېر- خو بل خوا بیا دا دواړه نادولتي وسله والې ډلې د سیمو د ولکې کولو پر سر هم جګړې کوي چې زیاتره دا شان پیښې په ننګرهار کې رامنځته کېږي.



افغان ځواکونو خپلو چاڼیزو عملیاتو ته په څو ولایتونو کې زور ورکړی، دلته د هلمند ولایت ده.
انځور: د غوځنده ملاتړ نه جګړن لوکاس هاپکینس

همدا دواړه نادولتي وسله والې ډلې یا یوه یې د ننګرهار او کنړ ولایتونو په ځینو ولسوالیو کې په برابره توګه ناامنۍ او کوانبونه رامنځته کړي دي، چې له کبله ورو خو په منظمه توګه سره جلال اباد او نورو خوندي ځایونو ته د سیمې د خلکو د بېځایه کېدو سبب ګرځېدلی. همداشان په تیره میاشت کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا په هلمند، کندوز ننګرهار او روګان ولایتونو کې د چاڼیزو عملیاتو په تر سره کېدو سره هم د پام وړ کورنیو د بېځایه کېدو سبب شوی.

**د راتلونکي ژمني موسم او ټولټاکنو په رانږدې کېدو سره د**

- *راتلونکي ژمني موسم په رانږدې کېدو سره د جګړې دواړه ښکېلې غاړې لا خپلو بریدونه ته نبه زور ورکړي.*

**جګړې سړیدو ته هم ډېره کمه تمه ده**

په دې وروستیو کې په راتلونکي کال کې د پارلماني ټولټاکنو په اعلانیدو سره تمه ده چې ناامنۍ به زیاتوالی ومومي او لا به پسې پراخې شي. په دې برخه کې، کېدای شي دواړه ښکېلې غاړې خپلو جګړو ته دوام ورکړي.

د امریکا د ولسمشر، ډونالډ ټرمپ وروستی تصمیم چې غواړي افغانستان ته نور اضافي سرتیري ولیږي، کېدای شي دا هم په راتلونکو میاشتو کې د جګړو د زیاتوالي لامل وګرځي. همداشان، د امریکا ولسمشر اعلان کړی چې پر پوځي هوايي بمباریو به له دې وروسته ډېره کمه څارنه ولري او د جګړې په ډګرونو کې به یې د خپلو پوځي قوماندانانو واکونه ور ډېر کړي دي، چې په دې سره به پر نادولتي وسله والو ډلو باندې هوايي بریدونه زیاتوالی ومومي او په ترڅ کې به یې ملکي وګړي هم اغیزمن شي، لکه د اګسټ د ۲۸مې او ۳۰مې پیښې، چې د یوناما د معلوماتو له مخې پکې لږ تر لږه ۲۸ ملکي وګړي مړه او ۱۶ نور ټپیان شول – او هغه هم ټول ښځې او ماشومان وو.

# په افغانستان کې د واقعیتونو منل

*په افغانستان کې د OCHA د دفتر  د مشر، ډومینیک پارکر شخصي نظر*



دومینیک پارکر د ۲۰۱۵ کال د جولای له میاشتې را پدیخوا په افغانستان کې د OCHA مشر دی. نوموړي د لومړي ځل لپاره په افغاستان کې په کال ۱۹۹۸ کې په کار پیل وکړ او نږدې یوه لسیزه یې دلته له بېلابېلو انجوګانو، سترو مرسته کوونکو او ملګرو ملتونو سره کار کړی دی. دغه مقاله د نوموړي شخصي نظر بیانوي.

داسې څرګندېږي چې افغانستان به یو ځل بیا په یوه څلور لاره بدل شي. په بشري، پرمختیایي او ډیپلوماتیکو برخو کې زیاتره خلک داسې فکر کوي چې په دې هېواد کې به د سولې فرصت د دې پر ځای چې ښه والي پکې راشي، ښایي تر بد بتر شي. دا اعتماد به هغه مهال له لاسه ووځي چې د بدلیدونکي پوځي او سیاسي لیدلوري او تر ولکې لاندې د سیمو راوستل په عمل کې وړاندې شي. په داسې حال کې چې یوه لسیزه وړاندې په ټول هېواد کې هر چیرته کار کېدای شوای، خو اوس موضوع بدله شوې ده. د ۲۰۱۷ کال د مۍ په ۳۱ مه په کابل کې سترې چاودنې دا جګړه د پلازمېنې زړه ته را ورسوله.

*«په داسې حال کې چې یوه لسیزه وړاندې په ټول هېواد کې هر چیرته کار کېدای شوای، خو اوس موضوع بدله شوې ده. د ۲۰۱۷ کال د مۍ په ۳۱ مه په کابل کې سترې چاودنې دا جګړه د پلازمېنې زړه ته را ورسوله.»*

د جګړې دواړه وسله والې غاړې په زیاتیدونکي توګه سره روغتیایي مرکزونه د جګړه ایزو مواضعو په توګه کاروي، روغتیایي کارکوونکي تښتوي او ګواښي یې او په ځینو حالاتو کې له روغتیایي کارکوونکو څخه غواړي تر څو د جګړې کرښې ته ځانونه ورسوي تر څو د هغوی د ټپي شویو جنګیالیو درملنه وکړي. د روان کال په لومړیو کې، وسله والو ډلو زیات شمېر روغتیایي مرکزونه په زور تړلي وو، چې له کبله یې روغتیایي خدماتو ته نیم میلیون وګړو لاسرسی نه درلود. دا ډول جبري کارونه د بشري اصولو د بې پلوۍ او خپلواکي او همداشان د نړیوال بشري قانون په خلاف دي.

پر انجوګانو، د روغتیایي  خدماتو پر وړاندې کوونکو او نړیوالو موسسو لکه ICRC باندې د زورزیاتي نه ډکو بریدونو په ګډون د بشري کارګرانو، مرکزونو او فعالیتونو په وړاندې دا ډول پیښې په افغانستان کې د نړیوالې خیریه ټولنې د شتون د پام وړ کمښت لامل ګرځېدای شي، نه د هغوی د ښه نیت د کمښت په خاطر، بلکې د همدې خونړیو جګړو د شدید فشار له کبله.

### د بشري مرستو د اړتیاوو درناوی

د بدلیدونکي پوځي، پرمختیایي او بشري وضعیت بیا ارزونه د رامنځته کېدو په درشل کې ده. د امریکا ولسمشر، ډونالډ ټرمپ  د افغانستان لپاره نوې تګلاره اعلان کړې، او افغانستان ته لا زیات پوځیان رالیږي تر څو د امریکا د تاریخ تر ټولو اوږده جګړه پسې وغځوي. ملګرو ملتونو په دې وروستیو کې په دې هېواد کې بدلونونه منلي او افغانستان یې په جګړه کې د یوه ښکېل هېواد په توګه پیژندلی، نه داسې یوه هېواد چې له جګړو څخه راوتلی وي. دا په دې معنی چې ژوند ژغورونکي خیریه مرستې به دلته لا ډېر اهمیت ومومي.

*«افغانستان یې په جګړه کې د یوه ښکېل هېواد په توګه پیژندلی، نه داسې یوه هېواد چې له جګړو څخه راوتلی وي. دا په دې معنی چې ژوند ژغورونکي خیریه مرستې به دلته لا ډېر اهمیت ومومي.»*

د افغانستان لپاره د بشري مرستو د همغږه کوونکې، ټوبي لنزر له خوا د ملګرو ملتونو د ګډو بشري مرستو وروستي تصمیم، ۲۵ میلیونه امریکایي ډالر په اصطلاح «په سختې لاسرسي وړ سیمو» لپاره ځانګړي کړل، چې په دې سیمو کې هغه ولسوالۍ راځي چې تل پکې د سیمو د نیولو پر سر جګړې وي او یا هم هغه سیمې چې هلته وسله وال مخالفین کلک حاکمیت پرې لري. زیاتره دغه ولسوالۍ په تیر وخت کې د جګړو له کبله لاس نه خوړلې پاتې شوې او هلته د بشري اړتیاوو ارزونه نه ده تر سره شوې. بشرپاله ټولنه په کلکه سره دې ته ژمنه ده، تر څو په ټول هېواد کې هغو خلکو ته چې مرستو ته اړتیا لري، لاسرسی ولري، پرته له دې چې هغه سیمې د کوم لوري په ولکه کې دي.

بشرپالان د بشري اصولو له مخې فعالیت کوي او غواړي چې د جګړې د ټولو غړو له خوا ومنل شي. خو بیاهم داسې معلومیږي چې نړیوال بشري قانون به لا تر پښو لاندې شي، ځکه چې افغانستان په نړۍ کې د خیریه کارګرانو لپاره یو له وژونکو هېوادونو څخه دی، چې یوازې په روان کال کې ۱۵ خیریه وګړي وژل شوي، ۱۲ ټپیان شوي او ۳۹ تنه نور یې تښتول شوي دي.

### بشرپالان تضمین ته اړتیا نه لري نه سیاسي څرګندونو او لفظي غندنو ته

*« په ټول هېواد کې د جګړو په ډېریدو سره، بشرپالان تضمین ته اړتیا نه لري نه سیاسي څرګندونو او لفظي غندنو ته»*

د بشرپالانو په توګه، موږ په بېړه او ښکاره توګه سره یو ځل بیا په افغانستان کې د جګړې پر ټولو غاړو باندې غږ کوو چې بشري اصولو ته درناوی ولري او د نړیوال بشري قانون له مخې خپل مکلفیت تر سره کړي. دا په دې معنی چې د وسله والو او بې وسلو تر منځ توپیر رامنځته کړي، د خیریه کارګرانو په ښه کول پای ته ورسوي، ټول روغتیایي مرکزونه پرېږدي او روغتیایي کارکوونکي خپلو کارونو ته ازاد پرېږدي، د ملکیانو ساتنه وکړي او اړمنو خلکو ته د بشرپالانو لاسرسي ته اجازه ورکړي او همداشان ټولنو ته د دې اجازه ورکړي چې مرستې تر لاسه کړي.

د طالبانو مشر د لوی اختر په مناسبت دافغانستان خلکو ته په خپل پیغام کې یو ځل بیا پر ټولو انجوګانو باندې غږ کړی چې د هغوی تر کنټرول لاندې سیمو کې دې خپل فعالیت ته ادامه ورکړي. په دغه پیغام کې د طالبانو پر جنګیالیو باندې غږ شوی چې له انجوګانو سره دې مرسته وشي او د هغوی امنیت دې ونیول شي او خپلو جنګیالیو ته یې تر غوږ ور تیره کړې چې له ملکي مرګ ژوبلې څخه لاس واخلي.

په ټول هېواد کې د ناامنۍ په زیاتیدو سره، بشرپاله همکاران په بیړه سره امنیتي تضمین ته اړتیا لري، کومې سیاسي څرګندونې یا لفظي غندنې ته. پر روغتیایي مرکزونو او بشرپاله کارګرانو باندې کېدونکې بریدونه باید نور بدلون ومومي. د جګړې دواړه غاړې اړ دي تر څو ملکي وګړي خوندي وساتي او بشرپاله مرستو او روغتیایي خدمتونو ته اجازه ورکړي تر څو په هېواد کې هر هغه چا ته ورسیږي، کوم چې ورته اړتیا لري.

**موافق یاست که مخالف؟**
د دې لیکنې په اړه مو خپل نظرونه او تبصرې په لاندې پته راولیږئ: kropf@un.org.

# ۲۰۱۷ کال په لومړۍ نیمایي کې ۲,۲ میلیونه وګړو ته رسیدګي شوې

د بشرپاله مرستو د پلان (HRP) د کال د نیمايي کتنې (MYR) د معلوماتو له مخې، د ۲۰۱۷ کال له جنورۍ بیا د جون تر پایه پورې، بشرپاله ټولنې له ټولټال ۲,۲ میلیونه وګړو سره په افغانستان کې د کلستر د سیستم له لارې مرسته کړې ده. دغو ۲,۲ میلیونه جنګیو، هلکانو، ښځو او نارینه وو ته ژوند ژغورونکې مرستې رسول شوې دي، چې دا شمېره په ۲۰۱۷ کال کې د لومړنیو په نښه شویو مرسته کېدونکو کسانو د شمېر د دوه پر پنځمې برخې څخه کمه ده.

## په افغانستان کې د ډېر لږ شمېر راستنیدونکو له کبله ډېر کم خلک مرستو ته اړتیا لري

د کال په پاته میاشتو کې د بشرپاله پروګرام جوړوني ته په کتو سره، د کال د نیمايي کتنې رپوټ ښیي چې په افغانستان کې د بشري مرستو لپاره د اړمن خلکو په شمېر کې د بشري مرستو د غبرګون د پلان شویو ارقامو په پرتله چې له ۹,۳ میلیونه څخه تر ۷,۴ میلیونه وګړو پورې یې اټکل شوی وو، نږدې ۲۰ سلنه کمښت راغلی دی.

اساساً دا کمښت، افغانستان ته د ثبت شویو کډوالو او بې اسنادو راستنیدونکو د پام وړ کموالي له کبله رامنځته شوی دی. په روان کال کې تر اوسه پورې څه کم ۳۴۰۰۰ ثبت شوي کډوال افغانستان ته راستانه شوي دي، چې د کلني اټکل یعني ۵۵۰۰۰۰ په پرتله ډېر لږ دي او همداشان ۷۰۰۰۰ بې سنده راستنیدونکي راستانه شوي دي، چې د اټکل شویو ۵۰۰۰۰۰ په پرتله ډېر کم دي. سربېره پر دې، چې په افغانستان کې د روان کال په لومړۍ نیمایي کې ډېرې سترې طبیعي پیښې هم رامنځته شوې، چې له کبله یې د سیلابونو، بارانونو او برف کوچونو له کبله ۴۰۰۰۰ وګړي ځورمن شول، چې دا شمېره په تیرو دریو کلونو کې د طبیعي پیښو له کبله د ځورمن شویو اوسط ۱۱۰۰۰۰ وګړو یو پر دریمه برخه جوړوي.



سرچینه: OCHA MYR

| Revisions: | HRP | MYR |
|---|---|---|
| People in need | 9.6M | 7.4M |
| People targeted for aid | 5.7M | 3.6M |
| Funding requirements | $550M | $414M |

Source: OCHA MYR

د جګړو له کبله د خلکو بېځایه کېدا په هېواد کې د بشري اړتیاوو اصلي لامل دی: د روان کال د لومړۍ نیمايي په درشل کې د جګړو له کبله ۱۶۰۰۰۰ خلک په زور خپلو کورونو پرېښودو ته اړ ایستل شول، چې دا شمېره د تیر کال د لومړۍ نیمایي په پرتله د ۳۰۰۰۰ وګړو یا ۱۵ سلنه کمښت ښیي. د دغه کمښت باوجود، د بېځایه شویو وګړو لپاره پلان شوي شمېرې ۴۵۰۰۰۰ وګړو، توپیر نه دی کړی، ځکه چې د تیر کال په دویمه نیمایي کې ډېر خلک بېځایه شول او جګړې لا په ټول هېواد کې په ښه درز سره روانې دي.




که څه هم په ۲۰۱۷ کال کې د بېځایه کېدونکو شمېر ډېر کم و، خو د پلان جوړونې په اټکل کې په دې خاطر کمښت نه دی راغلی چې د جګړو د شدت له کبله د تیر کال په دویمه نیمایي کې زیات شمېر خلک بېځایه شول. سرچینه: OCHA MYR

## د مرستو لپاره د په نښه شویو خلکو په شمېر کې کمښت

د کال د نیمايي څېړنو له مخې، د مرستو لپاره د په نښه شویو خلکو په شمېر کې ۳۷ سلنه کمی راغلی، یعنې هغه شمېره له ۵,۷ میلیونه وګړو څخه ۳,۶ میلیونه وګړو ته را ټیټه شوې ده. چې په پایله کې، د اړتیا وړ مرستې هم ۱۳۶ میلیونه را کمې شوې دي، یعنې له ۵۵۰ میلیونه امریکایي ډالرو څخه ۴۱۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته را ټیټې شوې دي.

دغه کمښت د اصولو له مخې د راستنیدونکو او کډوالو د څېړکي (منفي ۱۵۱ میلیونه امریکایي ډالرو)، د خوندیتوب د کلستر (منفي ۳۹,۹ میلیونه امریکایي ډالرو)، د خوړو دخوندیتوب د کلستر (منفي ۶۵,۵ میلیونه امریکایي ډالرو)، د روغتیا د کلستر (منفي ۲۳ میلیونه امریکایي ډالرو)، د تغذیې د کلستر (منفي ۱۸,۵ میلیونه امریکایي ډالرو)، د اوبو او روغتیا پالنې د کلستر (منفي ۱۱,۵ میلیونه امریکایي ډالرو)، د غیر خوراکي اړتیا توکو د کلستر (منفي دوه میلیونه امریکایي ډالرو) او د ګډ موخیزو نغدي مرستو (منفي ۲۶,۶ میلیونه امریکایي ډالرو) د توپیر پایله ده، که څه هم په بیړنیو حالاتو کې د ښوونې او روزنې په برخه کې (۴۵ میلیونه امریکایي ډالرو) زیاتوالی راغلی دی.

بودیجوي اصلاحاتو هم مالي محدودیتونه رامنځته کړل، چې د روان کال په لومړۍ نیمایي کې یې د کلستر د همکارانو په وړتیا د پلان شویو پروګرامونو د تطبیق په برخه کې اغیزه وکړه – په تیره بیا په هغو سیمو کې چې هلته اوږدمهاله بېځایه کېدنه رامنځته شوې او د خوړو له جدي نشتون سره مخ دي – او یا هم د ریښتیني ظرفیت د جذب وړتیا نه لري تر څو په راتلونکو میاشتو کې هغه مرستې ارمنو ته ورسوي.

ولې د کال د نیمایي کتنه تر سره کړو؟

د بشري مرستو پلان د کال د نیمایي کتنه د OCHA او د کلستر د همغږۍ د کوونکو له خوا د بشري پروګرام د دوران په توګه تر سره شوې ده. دا د پرمختګونو او په کړکېچ او بشري اړتیاوو، تمویل، کړنو او مرستو په برخه کې یوه کتنه وړاندي کوي تر څو د هغو له مخې بشري اقدامات تر سره شي.

## بشري پلان جوړونه او پرمختیايي پلان جوړونه لاس په لاس مخ ته ځي

د بشري مرستو د پلان د کال نیمایي کتنه (HRP MYR) د ملګرو ملتونو د پرمختیاي اداري (UNDP) د ملګرو ملتونو د پرمختیایي فعالانو او حکومت تر منځ د پنځه کلنو همکاریو د چهارچوب د کال د نیمایي کتنې سره په ورته وخت کې په لاره اچول شوې، چې په اصطلاح ورته (UNDAF 2015-2019) وایي. د دې لپاره چې له تکرار څخه مخه ونیوله شي او په افغانستان کې د بشري او پرمختیایي اجنډاګانو تر منځ تراو پیاوړتیا وموومي، نو (OCHA) په همدې تمرین کې د بشري ټولنې استازیتوب کوي.

# جنګې او هلکان د زورزیاتي له وحشیانه چلند سره مخ دي

په افغانستان کې له ۱۰ څخه ۹ ماشومانو په کور او په ښوونځي کې زورزیاتی تجربه کړی دی او زیاترو یې جسمي سزاګانې، غفلت، رواني او جنسي زورزیاتی لیدلی دی. د ماشومانو د ساتنې نړیوالې انجو (SCI) د هېواد په پنځو ولایتونو کې سروې تر سره کړې، چې هلته یې د جنګیو او هلکانو د ژوند په اړه یو تور انځور تر لاسه کړی چې هغه د ټول افغانستان د ماشومانو استازیتوب هم کولای شي.

په افغانستان کې د (SCI) د دفتر موقت مشر، پاول بارکر وایي: «موږ زیات کلونه کېږي چې په نړۍ کې د ماشوم د ساتنې په برخه کې کار کوو. خو په افغانستان کې د ماشومانو په اړه دا ډول عام زورزیاتي، موږ ته ټکان راکړ»

> موږ زیات کلونه کېږي چې په نړۍ کې د ماشوم د ساتنې په برخه کې کار کوو. خو په افغانستان کې د ماشومانو په اړه دا ډول عام زورزیاتي، موږ ته ټکان راکړ.

**چپړاخه وهل، په سوک وهل او په لنګتو وهل**

یو زیات شمېر سروې شویو ماشومانو ویلي چې هغوی فزیکی زورزیاتی په تیره بیا په مخه باندې په چپړاخه وهل، په څټ باندې چپړاخه وهل (۵۴ سلنه)، په کوناټو باندې په چپړاخه وهل (۴۱ سلنه)، ټکان ورکول (۴۳ سلنه)، په سر باندې د ګوتو په سرو وهل (۴۱سلنه) یا په لنګته وهل (۴۰ سلنه) تجربه کړي دي. سروې شویو والدینو هم دا ټول منلي، که څه هم څو تنو یې منلي چې خپل ماشومان یې په کوناټو باندې وهلي دي (۴۱سلنه) او یا یې هم د ګوتو په سرو باندې په سر وهلي دي (۳۴ سلنه).



په ښوونځي کې ماشومانو ته په سزا ورکولو کې دا هم راځي چې د هغوی د ګوتو په منځ کې پنسیل ورکوي او هغه بیا کېکاږي او یا هم په دردناک حالت سره هغوی په دوو پښو یا یوه پښه باندې دروي. انځور: SCI

په افغانستان کې په کورونو کې ماشومانو ته خطرناکه سزا ورکول یوه عامه خبره ده، خو په ښوونځیو کې بیا دا کار منع دی. خو بیا هم د ښوونځیو ټولګی د زیاتره زده کوونکو لپاره د نه وهلو یو خوندي ځای نه دی. هغوی ویلي چې په ښوونځي کې هم د کور په شان وهل ټکول خوري او له هغه اضافه لا دا چې پنسیل یې په ګوتو کې کېکابښل کېږي (۳۹ سلنه) او یاهم په یوه سخت دردناکه حالت کې په یوه پښه باندې درول کېږي (۳۶ سلنه).

> خطرناکه سزا ورکول په ښوونځیو کې منع دی. خو بیا هم د ښوونځیو ټولګی د زیاتره زده کوونکو لپاره د نه وهلو یو خوندي ځای نه دی.

**رواني قربانیان او جنسي زورزیاتی**

څه باندې نیمایي ماشومانو ویلي چې هغوی ته د ګونګ، ټنبل یا نور نومونه اخیستل کېږي او یا هم ورته د پلار بدبخت (۴۴ سلنه) او یا هم ورته ویل شوي چې کاش بې موره او بې پلاره وای (۳۲ سلنه).

د جنډر له مخې زورزیاتی په افغانستان کې یوه عامه ستونزه ده، چې له پیچلو نابرابریو او کلتوري کړو وړو څخه رامنځته کېږي. په دې اړه د خبرونو نه عام کېدل او بدنامولو با وجود، زیات شمېر سروې شویو ځوانانو د ماشومانو پر وړاندې د جنسي زورزیاتي خبرې کړي چې ممکن دا کار د خبراوي د نشتوالي له کبله وي.

نږدې ۵۹ سلنه ځوانانو ویلي چې ماشومان په زور جنسي اړیکو لرلو او جنسي ځورونې ته مجبورېږي (۶۹ سلنه). د بچه بازي یا د ماشومانو د ساتنې په اړه ۶۸ سلنه ځوانانو او ۲۲ سلنه ماشومانو خبر ورکړی. د ماشومانو د ځوابونو له مخې جوتېږي چې ماشومان د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې له زیات خطر سره مخ دي، چې له هغې ډلې یتیمان (۶۱ سلنه)، د بې وزلو کورنیو جنګی او ماشومان (۵۷ سلنه)، د سړک د سر ماشومان (۴۵ سلنه) او د بېځایه شویو کورنیو ماشومان (۳۰ سلنه) ښودل شوي دي.

> نږدې ۶۹ سلنه لویانو ویلي چې ماشومان له جنسي اړخه ځورول شوي او څه باندې نیمایي لویانو ویلي چې بچه بازي یا د ماشومانو ساتنه شته.

**په افغانستان کې د ماشومانو ساتنه یوه خوځښت ته اړتیا لري**

د سروې پایلو هغه مخکنی موندنې هم تایید کړي چې نږدې یو پر دریمه یا د ښوونځي د عمر ټول ماشومان ښوونځي ته په دې خاطر نه ځي چې هغوی باید کار وکړي. یو پر پنځمه ټولو والدینو ویل چې تر ۱۵ کلنۍ ټیټ عمر لرونکي ماشومان د کورنۍ له میاشتنۍ عاید سره مرسته کوي. یوازې ۱۴ سلنه ټولو لویانو او اووه سلنه سروې شویو ماشومانو په ښکاره توګه وویل چې ماشومان د کار اجازه نه لري.

د (SCI) له دفتر څخه یوه تن، سمیرالله وویل: «د ماشومانو د ساتنې او خوندیتوب په اړه د سهي تګلارو او ستراتیژیو نشتون، هغه عوامل دي چې د ماشومانو په اړه زورزیاتي کې زیاتوالی راولي. دغه انجو پر افغان دولت، نورو انجوګانو، مدني ټولنو او رسنیو باندې غږ کوي تر څو د ماشوم د ساتنې په برخه کې خپلې مرستې لا پسې ډېرې کړي، تر څو په ټول هېواد کې له ماشوانو او جنګیانو سره مرسته وشي چې له خپلو حقونو څخه خوند واخلي.»

# ملکي وګړي او مرستندویه کسان #هدف نه دي

د اګسټ په ۱۹مه، د نړۍ ټول خلک د خیریه مرستو د نړیوالې ورځې په مناسبت یو ځای دریږي تر څو د بشري کړکیچ له کبله له ځورمنو خلکو سره خواخوږي وښیي او هغو مرستندویو کارکوونکو ته دعا وکړي کوم چې خپل ځانونه یې د بشري خدمتونو په ترسره کولو کې قرباني کړي دي.

د سږ کال د بشري مرستو په نړیواله ورځ کې یو ځل بیا په دې پیغام باندې ټینګار وشو چې په جګړو کې بند ملکي وګړي او مرستندویه کارکوونکي ستاسي هدف نه دي او د هغوی د خوندیتوب لپاره یې د اقدام کولو غوښتنه کوله. په افغانستان کې بیا دا ورځ درې ورځې وروسته له هغه ولمانځل شوه چې نامعلومو وسله والو کسانو د غور په ولایت کې د یوې انجو درې کارګران ووژل *(لاندې د بشري لاسرسي برخه ووینئ).*



My home is #NOTATARGET. (Pashto)


په نیویارک کې د ملګرو ملتونو کارکوونکي، د ملګرو ملتونو سرمنشي، ګوتیریس او د ERC مشر اوبراین د # زه هدف نه یم په نړیوال کمپاین کې ګډون کړی.
انځور: ملګري ملتونه/ایوان شنیدر

د ملګرو ملتونو عمومي منشي، انتونیو ګوتیریس وویل: «موږ دلته له ټولو هغو ملکي وګړو سره د همدردۍ لپاره ولا یو کوم چې په جګړو کې بند پاتې دي. موږ دلته د دې لپاره ولاړ یو تر څو نړۍ ته ووایو چې: ملکي وګړي په جګړه کې ستاسي هدف نه دي. کله چې وینم چې مرستندویه بشري کارګران په نښه شوي، نو ډېر پرې ځوریدلی یم. او کله چې وینم چې زما ځینې همکاران خپل ځانونه په خپلو دندو کې له لاسه ورکوي، نو هغه زما د ژوند تر ټولو بده تجربه وي.»

## مجرمانو ته ویل کېږي چې د بشرپالو په وړاندې زورزیاتی روا دی

د ناروې د کډوالو د شورا (NRC) مشر، جان اګلنډ او د ملګرو ملتونو د مرستو مشر، ستیفن اوبراین، د «اور پر کرښه» عنوان لاندې په یوه ګډه مقاله کې ویلي چې په زیاترو سیمو کې د جګړې قوانینو ته درناوی نه کېږي او د خیریه مرستو رسول هم د جګړې د لورو نه په دې خاطر خنډول کېږي چې د کړښې مخالفې غاړې ته د ژوند ژغورونکو مرستو له رسیدو مرسته و نه کړي، چې په همدې ترتیب د هغو سیمو خلک ټول کال نشي کولای خیریه مرستو ته لاسرسی ولري. پر طبي پرسونل او روغتیایي مرکزونو خو هسې هم بریدونه تر سره کېږي.

هغوی په دې مقاله کې داسي لیکلي دي: «د زیاترو پیښو هیڅ وخت څېړنه ونه شوه، خو که بیا هم چیرته کومه څېړنه شوې وي، نو هغوی د نړیوالو معیارونو په پوره کېدو کې پاتې راغلي. همدا مجرمانو ته مخامخ پیغام ورلیږي چې د بشرپالو په وړاندې زورزیاتی روا دی او د جګړې غاړې کولای شي د بشرپالو د نړیوال قانون په وړاندې پر مکلفیت لرلو باندې ملنډې ووهي. په دې اړه ډېر کم شمیر خلک نیول شوي دي خو په اړه یې کوم رسمي ثبت شوی شمیر نشته.»



Our village is #NOTATARGET. (Dari)

## په افغانستان کې د نړۍ د بشرپالو ورځ

په خواله رسنیو کې د نړۍ په کچه د #هدف نه یم کمپاین په افغانستان کې هم کش پیدا کړی و چې د ملګرو ملتونو د ادارو، ملي او نړیوالو انجوګانو استازو د افغانستان په رسمي ژبو دري- پښتو او انګریزي ژبو باندې پیغامونه چاپ کړي وو *(کېښې خوا ته ټویټري کارټونه لیدلای شئ).*



په خواله رسنیو کې د #زه هدف نه یم نړیوال کمپاین د نیویارک د ټایم په څلورلاره کې هم ننداري ته وړاندې شوی و.
انځور : OCHA

د افغانستان لپاره د بشرپاله مرستو همغږی کوونکی، توبي لنزر په یوه مشهور تلویزیوني پروګرام کې را ښکاره شو او د همدې ورځې په مناسبت یې دا پیغامونه په کراتو کراتو وویل:

«که چیرته تاسي دولتي یا غیر دولتي فعالان یاست، نو د خلکو ساتنه ستاسي مسوولیت دی. روغتیایي کارکوونکو ته باید دا زمینه برابره کړئ تر څو هغوی خپل پروګرامونه پر مخ یوسي او ډاډ ولري چې پر امبولانس به نور هیڅ وخت برید و نه کړي او همداشان دا ډاډ ولري چې خیریه مرستندویه کارکوونکي کولای شي هغو خلکو ته چې ساتنې او مرستې ته ډېره اړتیا لري، خپل ځانونه ور ورسوي.»



My classroom is #NOTATARGET.

### د کانال هوټل د بمي چاودنې په یاد کې

د نړۍ د بشرپالو ورځ په ۲۰۰۸ کال کې د ملګرو ملتونو په عمومي ناسته کې ټاکل شوې چې د عراق په پلازمینې، بغداد کې د کانال په هوټل کې د ملګرو ملتونو په مرکزي دفتر کې د بمي چاودنو له ورځ سره سمون لري.

په دغه برید کې د ملګرو ملتونو ۲۲ کسه کارکوونکي ووژل شول، چې په هغو کې د عراق لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی، سیرګیو ویرا دی میلو هم د ۲۰۰۳ کال د اګسټ په ۱۹مه ووژل شو.

# د پیسو ګټلو په څواک سره ښځې کولای شي نوې ازادۍ وپېژني

*د دغې مقالې په لیکو کې اکټېډ دفتر مرسته کړې*

اتلس کلنه نعیمه چې په افغانستان کې د فرانسوي انجو، اکټېډ دفتر له خوا د جوړو شویو پرمختیایي مرکزونو نه په یوه کې د کمپیوټر د زده کړې په یوه وړیا کورس کې یې ګډون کړی دی داسې وایي: «ما غوښتل چې دلته په مزارشریف کې ډاکټره شم؛ ما غوښتل چې خپل وطن ته د خدمت مصدر وګرځم. دغه مرکزونه ښځو ته د لیک لوست د زده کړې او په مسلکي مهارتونو کې زده کړه ورکوي، چې په ترڅ کې یې د ښځو د استخدام لیدلوری هم ښه والی مومي او د هغوی ظرفیت ښېي تر څو له دودیزو جنډري نقشونو څخه راووځي.



سحر د اکټېډ موسسې له خوا  دځوانانو د پرمختیایي مرکزونو نه په یوه کې د ګلدوزي ښوونکې ده.
عکس: اکټېډ/جوزیف شاویر

په مزارشریف کې د همدې مرکز د انګریزي ژبې ښوونکې، افسانه وایي: «دلته زیاتره جنکیو ته یوازې تر ۹ ټولګي پورې زده کړو ته اجازه ورکول کېږي. خو بیا هم، د ځوانانو په پراختیایي مرکزونو سره موږ کولای شو چې کورنیو ته قناعت ورکړو چې لوړې زده کړې کول اقتصادي ګټې له ځانه سره لري.»

*د هغوی کورنۍ ډېرې جدي دي او په کورسونو کې د نارینه غړو د شتون له کبله حتې د درس ویلو او کار لپاره هم اجازه نه ورکوي. خو دلته، لکه چې وینئ مربیانې ټولې ښځې دي، نو هېڅ ستونزه نشته.*

له نوموړي سره د مسلکي مهارتونو ښوونکي مرسته کړې او وایي: «دا همدا د پیسو ګټلو اصلاح شوی ځواک دی چې محافظه کاره کورنۍ خپلو جنکیو او ځوانو ښځو ته نوې ازادۍ ورکوي.»

یوه مهمه موضوع تر څو وکولای شو په کور کې د ننه د کورنۍ د ښځینه غړو پر ساتلو باندې برلاسي ومومو، هغه په مرکزونو کې د ښځینه کارکوونکو او ښوونکو لرل دي. په دې اړه د ګلدوزي یوه ښوونکې، سحر داسې وایي: «د هغوی کورنۍ ډېرې جدي دي او په کورسونو کې د نارینه غړو د شتون له کبله حتې د درس ویلو او کار لپاره هم اجازه نه ورکوي. خو دلته، لکه چې وینئ مربیانې ټولې ښځې دي، نو هېڅ ستونزه نشته.»

هره اوونۍ، شاوخوا ۸۰ ښځې په مزار شریف کې په همدغو ټولګیو کې ګډون کوي او دری کاله وړاندې چې کله دا پروګرام پیل شوی، څه باندې ۱۳۰۰ ښځو په دغو مرکزونو کې زده کړه کړې ده. دغه پروژه د یوروپ اېډ له خوا د اروپایي کمېسیون له لورې د ټولټال ۱،۳ میلیونه یورو (۱،۵۶ میلیونه امریکایي ډالرو) په مټ تمویلیږي.

له همدغو مرکزونو څخه ځینې زده کوونکي هان پوهنتون ته تللي دي – د افغانستان په پوهنتونونو کې  پراخ جنسیتي توپیر ته په کتو سره، یوازې نیم سلنه جنکۍ په کلیوالي یا په ګوښه کې پاته شویو سیمو څخه کولای شي پوهنتون ته ولاړې شي.

# د بشرپالو لاسرسی او د خیریه کسانو پر وړاندې امنیتي پېښې

د اګسټ په میاشت کې، د بشرپاله کارکوونکو، مرکزونو او فعالیتونو په وړاندې د ۱۹ پېښې د تر سره کېدو خبر ورکړل شوی، چې په دې سره په ۲۰۱۷ کال کې د دا شان پیښو ټولټال شمېر ۲۲۶ ته ورسید. له بده مرغه، د ۲۰۱۷ کال د اګسټ په ۱۴مه  د غور په ولایت کې د کاتولیک خیریه خدماتو (CRS) د انجو درې تنه داخلي کارمندان د نامعلومو وسله والو کسانو له خوا ووژل شول او دوه نور یې ټپیان شول.

ټولټال تر اوسه پورې په افغانستان کې ۱۵ مرستندویه کارکوونکي د دندې په مهال وژل شوي، ۱۲ یې ټپیان شوي او ۳۹ یې تښتول شوي دي.

یوازې د اګسټ په میاشت کې د روغتیایي کارګرانو یا روغتیایي مراکزو په وړاندې اووه پېښې ثبت شوي دي، چې په دې سره په روان کال کې د همدې برخې د پېښو شمېر ۸۶ ته ورسید *(نقشه ووینئ).*




د روغتیایي مرکزونو او کارکوونکو په وړاندې رامنځته شوې پېښې
سرچینه: د OCHA د روغتیا کلسټر

**د لاسرسي لرلو عمده مسئلې**

د بشري ټولنې لپاره د لاسرسي عمده مسئلې د جګړو له کبله هغه ۱۸۵۰۰۰ بې‌ځایه شوي وګړي دي کوم چې د بادغیس، هلمند، کندهار، کندوز، ننګرهار او روزګان په ولایتونو کې په سختۍ سره د لاسرسي وړ سیمو کې اوسي. زیاتره دغه بې‌ځایه شوي کورنۍ لا په ۲۰۱۶ کال کې بې‌ځایه شوې وې.

د ۲۰۱۷ کال د جنورې نه تر اګسټ میاشتې پورې رامنځته شوې پېښې

226
پېښې رامنځته شوې

15
خیریه کارکوونکي وژل شوي
(د سپتمبر تر ۱۴مې)

12
خیریه کارکوونکي ټپیان شوي

39
خیریه کارکوونکي تښتول شوي

79
د روغتیایي مرکزونو او روغتیایي کارکوکو پر وړاندې تر سره شوې پېښې

# بشري مرستې

د روان کال د سپټمبر تر ۱۱مې نېټې پورې، د OCHA  په مالي تعقیبي سیستم (FTS) کې د ټولټال ۲۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو د را ټولیدو خبر ورکړل شوی، چې له هغې ډلې څخه ۱۷۹،۵ میلیونه امریکایي ډالر په ۲۰۱۷ کال کې د بشري مرستو د پلان لپاره ځانګړي شوي دي. دغه مقدار پیسې د بشري مرستو د پلان د لومړنی ۵۵۰ میلیونه امریکایي ډالرو د غوښتنې ۳۲ سلنه جوړوي، چې د کال د نیمایي کتنې د رپوټ له مخې د راټیټ شویو ۴۱۴ میلیونه امریکایي ډالرو ۴۳ سلنه برخه جوړوي. نږدې ۲۰ دولتونو سږ کال د بشري مرستو له پلان سره مرسته کړې ده *(کیڼې خوا ته چارټ ووینئ).*




**د افغانستان لپاره د ګډې بشري مرستې (CHF) له خوا د څه باندې ۲۵ میلیونه امریکایي ډالرو دویم تخصیص**

د افغانستان لپاره د ګډې بشري مرستې اداري (CHF)، نږدې ۲۵ میلیونه امریکایي ډالر اوس مهال موجود دي، چې د ۲۰۱۷ کال لپاره د په نښه شویو ۵۵ میلیونه امریکایي ډالرو څه کم نیمایي جوړوي. په دې وروستیو کې، سویډن او سویس د افغانستان لپاره د ګډې بشري مرستې اداري سره مرسته کړې او د نورو مرسته کوونکو ل خوا هم د مرستو ژمنه شوې په تیره بیا د بریتانیا او سویلي کوریا د هیوادونو له خوا.

د افغانستان لپاره د بشرپالو مرستو همغږې کوونکی، توبي لنزر تصمیم نیولی تر څو سږ کال د افغانستان لپاره د ګډې بشري مرستو اداري د دویم معیاري تخصیص لپاره ۲۵ میلیونه امریکایي ډالر وګومي.

د همدې تخصیص تمرکز په ۴۵ نه لاسرسي وړ ولسوالیو کې د مرستو پر لېږلو باندې دی چیرې چې حادې بشري اړتیاوې پکې ډېرې دي. له دغو پیسو څخه ۷ میلیونه امریکایي ډالر د روغتیا برخې لپاره؛ ۵ میلیونه امریکایي ډالر د تغذیې د برخې لپاره؛ ۵ میلیونه امریکایي ډالر د خوندیتوب د برخې لپاره؛ ۴ میلیونه امریکایي ډالر د اوبو، پاکوالي او روغتیاپالنې د برخې لپاره؛ ۲ میلیونه امریکایي ډالر د FSAC د برخې لپاره او ۲ میلیونه امریکایي ډالر د فعالو اقداماتو لپاره ځانګړي شوي دي. ټولټال ۲۴ پروژې چې ۱۲ یې د داخلي انجوګانو، ۱۱ یې د نړیوالو انجوګانو او یوه یې د ملګرو ملتونو د ادارې له خوا اوس مهال تر غور او کتنې لاندې دي.

**په افغانستان کې د بېړنیو حالاتو د لږ مرسته شویو پروګرامونو لپاره د CERF له خوا د ۱۰ میلیونه امریکایي ډالرو مرسته وشوه**

د ERC دفتر د مرکزي بېړنیو مرستو له صندوق (CERF) څخه د لږ مرسته شویو بېړنیو پروګرامونو (UFE) نه افغانستان ته د ۱۰ میلیونه امریکایي ډالرو د تخصیص لپاره غوره کړ. دغه پیسې به د هغو خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره ولګول شي چې تر اوسه پورې یې د پیسو د نشتوالي له کبله مرستې نه دي تر لاسه کړې په تیره بیا له ایران څخه د بې اسناده افغان راستنیدونکو لپاره چې د ملک له پولې څخه د افغانستان د نیمروز ولایت ته راغلي او همداشان په همدې ولایت کې د خاشرود او چخانسور په ولسوالیو کې د سیلاب ځپلو ټولنو سره به مرسته وشي.

سربېره پر دې، د بېځایه شویو کورنیو، راستنیدونکو او هغو کوربه ټولنو لپاره چې د لوړې ارتفاع لرونکو ۲۱ ولایتونو کې اوسیږي له هغوی سره به ژمنی مرستې زیاتوالی وموهي او په لسو ولایتونو کې د وړو فارمونو او څاروېو لرونکو بزګرانو مرسته تر لاسه کړه تر څو له هغوی سره مرسته وشي چې د لوړې له موسم څخه ژوندي راووځي. د ملګرو ملتونو هغه ادارې چې د (CERF) مرستې تر لاسه کوي  هغه عبارت دي له: د کډوالو نړیواله موسسه، FAO، د روغتیا نړیوال سازمان، د خوړو نړیوال سازمان، UNHCR او  یونیسیف.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره په لاندې پتو اړیکه ونیسئ:
**ډومینیک پارکر**، د افغانستان د OCHA د دفتر مشر: parker@un.org
فیلیف کروف، د عامه اطلاعاتو امر، د افغانستان د OCHA دفتر: موبایل شمېره: kropf@un.org, (+93) 793 001 110
د همدې رپوټ ژباړه په همدې پته تر لاسه کېدای شي: ***https://goo.gl/1q4smn*** او یا هم دا کوډ سکن کړئ:
د لازیاتو معلوماتو لپاره دې پتو ته ورشئ: www.unocha.org | www.reliefweb.int
https://www.facebook.com/UNOCHAAfghanistan https://twitter.com/OCHAAfg